# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د کب ۲۸مه | د ۲۰۲۰ د مارچ ۱۸مه | ۵۳۲مه گڼه

2 017550 139621


## پراخېدونکې ګواښ؛
### د کرونا پر وړاندې د حکومت اقدامات چټک او اغېزناک نه دي


۳


د کرونا په اندېښنه کې د سولې ورکې هڅې
۲ مخ

کلک هوډ او یووالی د کووید- ۱۹ پر وړاندې د بري ضامن دی
۲ مخ

د امریکا او طالبانو تر منځ لاسلیک شوې هوکړه؛ هیلې او خنډونه
۳ مخ

## کتاب
۴ مخ

### شبکه يي دولت




دا کتاب په افغانستان کې له ۲۰۰۱ ز کال وروسته د دولت جوړونې په برخه کې نړیوالو لاسوهنو ته ځانګړې شوی دی، چې د دولت په جوړښتي شبکه او واک باندې خبرې کوي.

## چارواکي: د هرات د ګمرک عواید په لومړۍ ربع کې دریو ملیاردو افغانیو ته رسېدلي



چارواکي وایي، د هرات ولایت د ګمرک عواید د مالي کال په لومړۍ ربع کې دریو ملیاردو افغانیو ته رسېدلي دي.

د مالیې وزارت ویاند شمروز مسجدي ویلي، ټاکل شوی هدف لوړ و، خو د کرونا ویروس له کبله چې په سوداګریزو چارو کې یې خنډونه رامنځ ته کړل، هغه هدف ته نه دي رسېدلي.

هغه زیاته کړې: «سږ کال زموږ هدف له ۳ میلیاردو افغانیو څخه زیات و، خو له بده مرغه موږ له یو خطرناک مرض سره مخ شوو چې زموږ واردات یې راکم کړل، زموږ پولې تر یوې مودې پورې تړلې وې، هغه هدف مو چې ټاکلی و، ورته ونه رسېدو.»

مسجدي ویلي، تېره اونۍ یې د هرات ولایت له ګمرکو څخه له ۱۳۷ میلیونو زیات عواید تر لاسه کړي چې دغه رقم د ملاحظې وړ دی. د مالیې وزارت ویلي، په دغه ګمرک کې له اصلاحاتو وروسته اوس تمه کېږي چې له ګمرک څخه د تېر کال په پرتله څو برابره زیات عواید تر لاسه شي.

## ایير فورس: امريکا روان ميلادي کال پر افغان خاوره ۷۷۵ بمونه غورځولي

د امریکا متحده ایالتونو او طالبانو تر منځ د سولې له هوکړې وروسته هم په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو هوایي بریدونه د تېر په څېر روان دي.

اېیر فورس مجلې د امریکا د هوایي ځواکونو د مرکزي قوماندانۍ له قوله لیکلي، یوازې په تېره فبرورۍ میاشت کې د امریکایي پوځیانو له خوا په افغانستان ۳٦۰ بمونه غورځول شوي دي.

راپور زیاته کړې، د ۲۰۲۰ میلادي کال له پیل راهیسې امریکا پر افغان خاوره ۷۷۵ بمونه غورځولي چې د تېر کال د همدې مودې شمېر ته په نږدې کېدو دي.

په راپور کې راغلي، امریکایي پوځیانو د روان میلادي کال له پیل راهیسې ۲۳۴۰ الوتنې کړې او په ټوله کې یې ٦۲ زره او ۵۰۰ پونډه مهمات د مخالفینو پر اهدافو غورځولي دي.

د ایير فورس مجلې په راپور کې راغلي، په دې هوایي بریدونو کې د داعش د خراسان څانګه او القاعده وسله‌وال په نښه شوي دي.

خو د امریکا متحده ایالتونو او طالبانو تر منځ د سولې هوکړې د لاسلیک په پنځمه ورځ او د امریکا ولسمشر ډونالد ټرمپ او په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر مشر ملا عبدالغني برادر تر منځ له ټلیفوني اړیکې څخه نږدې ۱۲ ساعته وروسته، امریکایي ځواکونو د هلمند په نهر سراج ولسوالۍ کې پر طالبانو هوایي حمله وکړه.

په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو ویاند ساني لګېت هغه مهال پر خپل ټویټر لیکلي وو، دوی ځکه طالبان په نښه کړي چې د افغان ځواکونو پر پوستو یې بریدونه کړي وو.

## د بشري حقونو کمېسیون: په افغانستان کې پر جنګي جنايتونو تورن بهرني ځواکونه بايد محاکمه شي



۵ مخ

## امریکا: از عملیات های اخیر طالبان در برابر گروه داعش استقبال میکنیم



امریکا در حالی که اعلامیه طالبان را در بارهٔ محکومیت گروه داعش در افغانستان و نیز عملیات طالبان را در برابر این گروه در کنر استقبال می‌کند، اما تاکید می‌ورزد که واشنگتن از طالبان انتظار دارد که به تعهدات شان بر بنیاد توافق نامه پابند باشند.

زلمی خلیلزاد، نماینده ویژه امریکا برای صلح افغانستان در صفحه تویتر اش از این که طالبان از استخدام، تمویل و آموزش گروه داعش جلوگیری می کنند، استقبال می کند.

آقای خلیلزاد گفت: «ما از طالبان انتظار داریم تا تعهدات شان را عملی کنند. تحقق تعهدات ما، در موافقتنامه، وابسته به عملی سازی تعهدات طالبان است.»

این گفته‌ها در حالی ابراز می‌شوند که به تازه‌گی حکومت افغانستان افزایش خشونت‌ها را از سوی گروه طالبان انتقاد می‌کند و هشدار می‌دهد که اگر این گروه خشونت‌ها را کاهش ندهند، نیروهای دولتی عملیات‌های تهاجمی را در برابر آنان آغاز خواهند کرد.

جاوید فیصل، سخنگوی دفتر مشاور امنیت ملی رئیس جمهور در این باره گفته است: «به این دلیل که فرصت به میان آمده در روند صلح ضایع نشود، نیروهای افغان تا هنوز هم در حالت دفاعی قرار دارند، اما اگر طالبان خشونت ها را متوقف نسازند، این نیروها آماده هستند که بخاطر دفاع از مردم و کشور به حملات تهاجمی بپردازند.» طالبان پیش از این ادعا کرده اند که این گروه بخش هایی از ننگرهار به ویژه ولسوالی اچین ننگرهار را از وجود گروه داعش پاکسازی کرده اند.


Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ



Aksos

کابل دریمه ناحیه، دجمهوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## دریځ

### د کرونا په اندېښنه کې د سولې ورکې هڅې

د کرونا له وېرې او اندېښنو سره د سولې پروسه یو ډول له پامه لوېدلې ده. ټاکل شوې وه چې اته ورځې وړاندې بین الافغاني خبرې پیل شي، خو نه یوازې چې خبرې پیل نه شوې، بلکې د حکومت له اړخه آن مرکچي پلاوی هم نه دی ټاکل شوی. که څه هم محمد اشرف غني د لوړې مراسمو په ورځ ژمنه وکړه چې د مارچ په لسمه به پلاوی اعلان کړي، خو دا دي نهه ورځې وروسته هم پلاوی نه دی اعلان شوی. له بله اړخه د بندیانو د تبادلې په برخه کې هم د حکومت ژمنې او د ولسمشر فرمان نه دی عملي شوی او دا چاره هم د دې سبب شوې چې د بین الافغاني خبرو د پیل پر وړاندې خنډونه ډېر شي.

کرونا جدي ګواښ دی، خو زموږ لپاره جګړه تر کرونا په زرګونو ځله خطرناکه ده. په ټوله نړۍ کې کورنا دومره کسان نه دي وژلي، لکه موږ چې هر کال په جګړه کې وژل کېږو. په ټوله نړۍ کې پر کرونا دومره کسان اخته شوي، لکه له ۲۰۰۱ ز کال څخه تر اوسه چې څومره افغانان په جګړه کې وژل شوي دي. له همدې امله کرونا باید جدي وګڼل شي، تدابیر ونیول شي او پر ضد یې مبارزه وشي، خو موږ باید د جګړې خاتمه او سوله هېر نه کړو. کرونا به ختمه شي، خو موږ به د جګړې کرونا همداسې وژني. له بده مرغه اوس داسې ښکاري چې د سولې لپاره هڅې او د سولې غوښتنې د کرونا د وېرې او اندېښنو تر سیوري لاندې راغلي دي.

حکومت پرله پسې په دې چاره کې ناغیړي کوي او خنډونه جوړوي. آن تر اوسه پورې یې پلاوی نه دی اعلان کړی. که څه هم حکومت وایي چې په دې اړه یې له سیاسي ګوندونو او سیاستوالو سره مشورې کړې دي او اعلان به یې کړي، خو له بیا بیا ژمنو سره سره نه یوازې پلاوی اعلان نه شو، بلکې سیاسي ګوندونه او سیاستوال وایي چې حکومت ورسره په دې تړاو هېڅ ډول مشورې نه دي کړې. له دې ښکاري چې حکومت لا هم خلکو ته دروغ وایي او غواړي چې د پلاوي ټاکل او اعلانول وځنډوي. دا ډول دروغ او د پلاوي نه ټاکل یوازې له سولې سره مخالفت او د جګړې دوام ته د لارې پرانیستلو په مانا دي. که نه، دا څنګه شونې ده چې حکومت دې په یوه کال کې یوازې یو پلاوی ونه شي ټاکلی چې ۱۵ غړي ولري؟! کله چې حکومت بیا بیا وایي چې طالبان دې له موږ سره خبرو ته حاضر شي، خو دوی د خبرو لپاره پلاوی ونه لري، نو په واقعیت کې دوی خبرو ته هېڅ ډول تیاری نه لري او دا غوښتنې یې هم یوازې د خلکو په سترګو کې د خاورې شیندلو لپاره دي.

اوس پکار ده چې سوله غوښتونکي سیاستوال او سیاسي ګوندونه په دې برخه کې جدي غبرګون وښیي. دوی باید له ولس سره په ګډه د سولې پروسه او بین الافغاني خبرې جدي وګڼي. که حکومت پلاوی نه ټاکي، د ولسي استازو او د سیاسي ګوندونو د استازو په ګډون دې یو پلاوی له طالبانو سره خبرې پیل کړي او له حکومت سره دې واضح او پرېکنده چلند وکړي، څو موږ د جګړې له کرونا خلاص شو او سولې ته ورسېږو.

# کلک هوډ او یووالی د کووید- ۱۹ پر وړاندې د برې ضامن دی

لیکنه: سیدالرحمن سالار

کووید- ۱۹ ویروس اوس تقریباً ټوله نړۍ له خطر سره مخ کړې، ټول هېوادونه د دغه ویروس د مخنیوي او له منځه وړلو لپاره هرې ممکنې لارې ته مخه کوي، افغانستان هم له دې هېوادونو څخه مستثنی نه دی.

کار پوهان وایي چې د نړۍ بېلابېل هېوادونه د دغه ویروس واکسین او درملو جوړولو په لټه کې دي او ځینو هېوادونو د واکسین جوړولو اعلان هم کړی، خو له دغه واکسین څخه تر عامه استفادې پورې څو میاشتې او آن ښایي کلونه وخت ته اړتیا وي.

هدف دا دی چې تر اوسه د دغه ویروس واکسین او درمل نشته، خو ولې په ځینو هېوادونو کې د ویروس د خپرېدو مخه تم شوې او د افغانستان په ګډون، په ځینو هېوادونو کې سره له دې چې لا یکې د ویروس خپرېدل اوج ته نه دي رسېدلي، خو عامه افکارو یې پر وړاندې د تسلیمۍ لاسونه پورته کړي، په بازارونو کې د شیانو په نرخونو کې بې ثباتي پیدا شوې او آن خبره د نرخونو په کنټرول کې د امنیتي ارګانونو مداخلې ته رسېدلې.

زما په اند، زموږ په هېواد کې د دې وضعیت یو مهم لامل د خلکو نه هغېږي، د آګاهۍ او اقتصادي کچې ټیټوالی دی.

**څه وکړو چې بریالي شو؟**

دا چې د کووید- ۱۹ ویروس یوه نړیواله ستونزه ده او موږ تقریباً په هغو هېوادونو کې راڅو چې ویروس تر ټولو وروسته راغلی، نو پکار ده چې له دې پدیدې سره د مبارزې په برخه کې د نورو هېوادونو له بریالیو تجربو کار واخلو.

که موږ په دې اړه غور وکړو چې تر اوسه کوم هېواد له کووید- ۱۹ ویروس سره په مبارزه کې بریالی ښکاري، نو یوازې چین دا ثابته کړې او په خپلو هڅو سره یې د دغه ویروس د خپرېدو سرعت صفر ته نږدې کړی.

زما په اند، هغه راز چې چین یې له دې بلا سره په مبارزه کې بریالیتوب ته ورساوه، درې ټکي دي چې یو د حکومت سالم او ټینګ مدیریت، بل د روغتیایي ارګانونو او پوهانو علمي هڅې، مشورې او سپارښتنې او درییم د خلکو له خوا د دغو سپارښتنو په دقیقه توګه مراعاتول.

په چین کې د نړۍ ۱۸ تر ۱۹ سلنه وګړي ژوند کوي او دغه ویروس په داسې حال کې پکې رامنځ ته شو چې له دې مخکې د بشر په تاریخ کې نه و تجربه شوی او کووید- ۱۹ ویروس په وجه رامنځ ته شوې ناروغي هېچا نه پېژندله او هېڅوک نه پوهېدل چې دا څه ډول ویروس دی، سرچینه یې څه ده، درمل یې څه دي، څه ډول سرایت کوي او د سرایت قدرت یې څومره دی.

بله خبره دا ده چې ویروس په داسې حال کې رامنځ ته شو چې په ټول چین کې د چینایانو پسرلنی اختر و او تقریباً ټولې تولیدي کارخونې، مارکېټونه، روغتیایي مرکزونه او نور د اختر په مناسبت یا تعطیل وو او یا یې کارونه ډېر کم کړي وو. د جنورۍ په ۲۵مه د چینایانو اختر و چې ناڅاپه طبي پوهانو د جنورۍ په ۲۱مه خلکو ته د رسنیو له لارې د یوه نوي، ساري او خطرناک ویروس د رامنځ ته کېدو خبر اعلان کړ. نو طبیعي ده چې داسې ناڅاپي خطر رامنځ ته کېدل د خلکو پر روحیه منفي اغېز کوي او که سالم مدیریت نه وي، نو د چین په شان هېواد چې ۱۴ سوه میلیونه نفوس لري، د دومره خلکو نظم، هغوی ته د اړتیا وړ شیانو برابرول څه ساده خبره نه ده.

خو چینایانو د اټکل خلاف له ویروس سره په منظم ډول، ټینګې ارادې او لوړې روحیې سره په یو غېز مبارزې ته مخه کړه.

هماغه ډول چې مخکې یادونه وشوه، د دوی مبارزې ځکه رنګ راوړ چې هم یې ښه مدیریت درلود، هم ښه یووالی او هم ښه طبي پوهان.

دوی په دې کار سره نه یوازې له ویروس سره په مبارزه کې بریالي شول، بلکې د ویروس د مخنیوي لپاره یې داسې لارې چارې رامنځ ته کړې چې نړۍ ورته ګوته په غاښ شوه او ډېر پرمختللي هېوادونه اوس د چین له تجربو استفاده کوي.

چین د ښه نیت په موخه یو دا کار هم وکړ چې خپلې تجربې یې د روغتیا نړیوال سازمان سره شریکې کړې او اعلان یې وکړ چې که هر هېواد وغواړي، دوی به خپلې تجربې ورسره شریکې کړي چې زما په نظر د چین دغه اعلان او دغه راز په کابل کې د چین د سفیر له خوا افغان مشرانو ته د ویروس د وقایې او مخنیوي په اړه د وسایلو د ورکړې ژمنه، د افغانستان لپاره یو ښه چانس دی، ځکه موږ د امکاناتو له پلوه په ډېره ټیټه کچه کې قرار لرو، نو که هر څوک د مرستې لاس راکوي، باید ویې نیسو.

موږ ته پکار دا ده چې د دغه ویروس د کنټرول لپاره تر ټولو مهمه لار وقایه ده، که په نوره نړۍ کې یې واکسین یا درمل وای، نو موږ به ګیله کوله چې لاس مو تش دی، اوس چې هېڅوک دارو یا واکسین نه لري، خو نور پر دې بلا بریالي کېږي او موږ سر له اوسه خپل روحیات دومره کمزوري کړي چې د ویروس څو مثبتې پېښې تثبیت شوې، نو سوداګرو مو احتکار ته مخه کړه، ولس مو په تیت پرک ډول په بازارونو هجوم ور وړ چې بالاخره که امنیتي ځواکونو په بازار کې د بیو د کنټرول لپاره مداخله نه وای کړې، خدای خبر چې اوس به یوه بوجۍ اوړه په څو خرڅېدای.

تر دې ور هاخوا، ډېره د زړه بدوالي او آن د شرم خبره دا ده چې زموږ خلک له روغتونونو څخه تښتي، ښایي دا په نړۍ کې یو نادر کار وي.

یوه پېښه نه ده، دوې نه دي، بلکې په څو پېښو کې لسګونه ناروغان او شکمن کسان په بېلابېلو وختونو کې له روغتونونو څخه تښتېدلي، په داسې حال کې چې دا یوه ډېره خطرناکه ساري ناروغي ده او دغه کسان په دې کار سره نه یوازې خپل ځانونه، بلکې خپلې کورنۍ او بالاخره ټولنه په خطر کې اچوي او پر دې سربېره یې په نړۍ کې د افغانانو باور ته سخت زیان رسولی.

افغانان په نړۍ کې پر غیرتي، صابر او مبارز قوم شهرت لري، پکار ده چې له دې بلا سره په معقوله توګه مبارزه وکړي.

مبارزه یوازې شعار او نمایش نه دی، بلکې باید عملي یې کړو.

هیله ده هر افغان له ځان سره دا فکر وکړي چې آیا ما په خپل کور کې دا وقایي سیستم او د روغتیا وزارت لاربښوونې عملي کړې؟ دفتر مشر یې له خپل ځان سره فکر وکړي چې آیا ما دغه خبرې چې نورو ته یې په رسنیو کې خپروم، خپله مې عملي کړې؟ موټروالا یې له ځان څخه پوښتنه وکړي چې آیا ما دغه وقایه عملي کړې، آیا خپل موټر مې هره ورځ پاک کړی؟ خبره را لنډوم، که غواړو چې له دې ویروس څخه ځانونه وژغورو او ژوند وکړو، نو د هرې کورنۍ مشر، د هر دفتر مشر، د کلي او بانډې مشر او بالاخره د هرې ولسوالۍ او ولایت مشر دې تر خپل لاس لاندې پر خلکو رحم وکړي او د روغتیایي ارګانونو سپارښتنې دې په جدي توګه عملي کړي.

که داسې ونه کړو، باور وکړئ څو چې یو افغان هم پاتې وي، نو له دې ویروس سره به لاس او ګریوان وي.

# ملي ګواښ او د چین تجربه

لیکنه: لېمه علیزی

زه د کرونا ویروس د را پیدا کېدو د وخت او اخته شویو کسانو په اړه خبرې نه کوم او نه هم په دې اړه څه وایم چې په کومو هېوادونو او سیمو کې یاده ناروغي خپره شوې ده، بلکې غواړم د انسانیت د اصولو او له تنګ نظریو او تعصب پرته په دې اړه خپل نظر وړاندې کړم.

دا چې موږ ټول د الله (ج) مخلوق یو او الله پر خپلو ټولو مخلوقاتو مهربانه دی، نو موږ هم باید دا رعایت کړو او په یاد ولرو چې د الله مخلوق او په خاص ډول انسانان څه ډول له یو بل سره د مهربانۍ او خواخوږۍ اړیکه ولري. موږ د یوه انسان په توګه د ټولې نړۍ لپاره پیدا یو، زموږ لپاره یو ځانګړی هېواد مقید نه دی، خو دا چې د هېوادنیو اصولو له مخې په یوه خاصه جغرافیه کې ژوند کوو، دا ټول د انساني نظم او ترتیب لپاره رامنځ ته شوي دي، نو په اصل کې د ټولو انسانانو درد او غم شریک دی او موږ یې باید درک ولرو.

کله چې د کرونا د نوي ویروس اوازه په چین کې خپره شوه او ټولنیزو رسنیو کې مې د مثبتو پېښو د شمېر او زیاتېدو خبرونه لیدل، ډېره به خپه کېدم او د دوی درد به مې احساساوه او چې د دوی د اوښکو ډکو سترګو تصویرونه به مې لیدل، زما به هم په سترګو کې اوښکې راتلې. دا چې ما هلته زده کړې کړې دي، نو د چین له ځینو خلکو سره تر اوسه ښې اړیکې او دوستان لرم، نو هره ورځ به مې یې د حال پوښتنه کوله او ډاډګیرنه به مې ورکوله. د لا زیاتو معلوماتو لپاره به مې په ټولنیزو رسنیو کې د نورو هېوادونو د خلکو نظرونه هم څارل، ځینو به په مسخره امېز ډول یو بل ته داسې لیکل:

«له چینایانو سره خو به اړیکې نه لرې؟ چې د مسیج له لارې ویروس را انتقال نه شي، که چېرې ته په چین کې وای، موږ به نور له تا سره اړیکه پرې کړې وای، دوی هر رقم څیزونه خوري، نو باید دارنګه سزا وویني او داسې نور... .»

دوی خبر نه وو او نه یې فکر کړی و چې ویروس او ناروغي سرحد نه لري، ځمکه او نژاد نه پېژني، که نن پر دوی ده، سبا به پر ما وي.

اوس وینو چې له بده مرغه په ډېرو نورو ځایونو او هیوادونو کې ورځ په ورځ د دې ویروس له امله د ناروغانو شمېر په زیاتېدو دی، چې ټول یې پرېشانه او وراخطا کړي او هېڅ نه پوهېږي چې څه وکړي.

د کرونا د خپرېدو له امله د چین حکومت او خلکو خپل مورال له لاسه ورنه کړ او خپلې هڅې یې منسجمې او جاري وساتلې. دوی پر خپل ځان د باور لرلو تر څنګ، یو ساده طریقه غوره او د چینایي دودیزو درملو له لارې یې تداوي پیل کړه. همدا وو چې د دې ویروس پر وړاندې د مقابلې په ډګر کې بریالي شول، موقتي روغتونونه یې بند کړل، ناروغان یې روغ شول او په ډېره لنډه موده کې یې دا مبارزه وګټله.

**ولې په چین کې کرونا ته ځینې خلک خوښ وو؟**

ځینو خلکو او هېوادونو فکر کاوه چې د کرونا ویروس به د چین اقتصاد کمزوری کړي، هېواد به یې بدنام شي او کارخونې به یې له کاره ولوېږي، خو داسې ونه شول، نه دا چې په ډېره لنډه موده کې یې دا ناروغي کنټرول کړه، بلکې په خپلو چټکو او ریښتینو اقداماتو سره یې نور هم د نړۍ پام ځان ته راواړاوه، تر دې چې اوس د نورې نړۍ هېوادونه د کرونا د کنټرول لپاره د چین د تجربو یادونه او غوښتنه کوي.

د کرونا د له منځه وړلو په برخه کې د چین اقدامات موږ ټولو ته دا زده کړه او تجربه راکوي، چې هېواد ته د ګواښ پېښېدو په وخت کې د حکومت مسوولانه او دقیق چلند او دغه راز د ملت بیداري او همکاري نه یوازې د بربادیو او خرابیو مخه نیسي، بلکې د اقتصادي او اجتماعي سوکالۍ لپاره تر ټولو مهم او اړین کار دی.

په ملي کچه د کرونا ویروس په څېر ګواښ او ستونزه، هغه پدیده ده چې اوس افغانان ورسره مخ دي. دلته ښایي دا ستونزه د نړۍ د نورو هېوادونو په څېر نه وي، ځکه د هېواد سیاسي او اجتماعي حالاتو ته په کتو، د ډېرې بربادۍ وسیله ګرځېدای شي. څه چې ډېر اړین دي، د دې ناروغۍ پر وړاندې د افغان حکومت او ملت دواړو مسوولانه برخورد دی، څو د یوه بشري ناورین مخه پرې ونیولای شو.

# د امریکا او طالبانو تر منځ لاسلیک شوې هوکړه؛ هیلې او خنډونه

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

د روان کال د فبروري میاشتې په ۲۹مه د امریکا متحده ایالاتو او طالبانو تر منځ په دوحه کې خپل منځي هوکړه د یو لړ پېچلو او سختو خبرو اترو په پایله کې په دې هیله لاسلیک شوه، څو په افغانستان کې د امریکا شل کلنې جګړې او روانو ناخوالو ته د پای ټکی کېښودل شي. که څه هم یاده هوکړه د ډېرو هېوادونو د استازو پر وړاندې لاسلیک شوه، مګر بیا هم لیدل کېږي چې د افغانستان د ننه د ځینو سیاسي مشرانو له نیوکو سره مخ ده، هغو مشرانو چې د هوکړې پر وړاندې خنډ ګڼل کېدای شي. دا چې د دې هوکړې پلي کېدل به په ټاکل شوې موده کې تر سره شي او که نه؟ د هوکړې پر وړاندې نور کوم خنډونه شته او دواړه خواوې یې پلي کېدو ته تر اوسه او په راتلونکې کې څومره ژمنې ښکاري، په دې تحلیل کې پرې شننه کوو.

**افغانستان ته د سولې راوستل**

د امریکا متحده ایالاتو او طالبانو تر منځ د سولې هوکړه چې څلورو برخې لري، د هغو خبرو اترو په پایله کې لاسلیک شوه چې شاوخوا ۱۸ میاشتې وخت یې ونیوه. د دواړو لوریو تر منځ خبرو اترو یو لړ لوړې ژورې هم درلودې، تر دې چې په ځینو پړاوونو کې دا خبرې د حملو د زیاتوالي له امله د ځنډ ښکار هم شوې. سیمه ییزو مرستندویانو او د افغانستان ګاونډیانو په هغه ورځ چې دا هوکړه لاسلیک کېده، په اړه یې پراخ، مګر د هرکلي غبرګونونه درلودل. د یادې هوکړې لاسلیک کېدو چې د قطر هېواد دوحه کې تر سره کېدل، د امریکا متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو په ګډون، د شاوخوا دېرشو هېوادونو استازو په یاده لاسلیک غونډه کې ګډون درلود. افغان ولس د دې هوکړې لاسلیک په ورځ پراخې خوښۍ لمانځلې، تر دې چې په ځینو سیمو کې د خیراتونو او شیرنیو ویشلو په ترڅ کې د یادو مراسمو تر سره کېدو څخه هرکلي وشو او د سولې ستره هیله چې له کلونو راهیسې یې هغوی په تمه او لټه کې دي، د پوره کېدو هیله په بې ساري توګه څرګنده کړه.

په لاسلیک شوې هوکړه کې دواړو خواوو ځینې ژمنې کړې دي. د بېلګې په توګه، د هوکړې د لومړۍ برخې په دربیمه حصه کې په ښکاره توګه یادونه شوې چې د مارچ په لسمه به بین الافغاني خبرې اترې پیل کېږي او په همدې ورځ به د باور جوړولو فضاء په پار ۵۰۰۰ طالب زندانیان له اړوندو اړخونو سره تر همغږۍ او تایید وروسته خوشې کېږي او طالبان به هم د افغان حکومت ۱۰۰۰ تنه بندیان خوشې کوي. په داسې حال کې چې د هوکړې تر لاسلیک وړاندې امریکایي چارواکو څرګنده کړې وه چې د سولې لاره اوږده او پېچلې ده. دې ته له ورته څرګندونو څخه له وړاندې داسې انګېرل کېده چې د هوکړې لاسلیک کېدل به په حتمي ډول سوله افغانستان ته را نه ولي، خو دا د سولې په لار کې یو ستر ګام و.

بلخوا د امریکا او طالبانو تر منځ د هوکړې لاسلیک په ورځ پلازمېنه کابل بیا د افغان دولت، امریکا او ناټو تر منځ د ګډې اعلامیې خپرولو شاهد و. د ناټو مشر او د امریکا دفاع وزیر د اعلامیې خپرولو غونډه کې خبرداری ور کړ که طالبان د هوکړې ژمنو ته وفادار پاتې نه شي، دوی به تړون لغوه کړي او له دې پرته یې په امنیتي برخه کې له افغان ځواکونو سره د مرستې تر سره کېدو په اړه هم څرګندونې وکړې چې په یو وخت کې دې دواړو غونډو د افغانانو هیلې د ناهیلۍ لور ته بوتلې. افغان حکومت که څه هم د هوکړې له لاسلیک کېدلو څخه هرکلی وکړ، مګر د طالب زندانیانو خوشې کول یې نه یوازې سره کرښه وګڼله، بلکې دا یې داخلي پرېکړه ګڼله چې یوازې په افغان حکومت پورې اړه لري. طالب مشرانو بیا ټینګار درلود چې امریکا دې دې هوکړې ته ژمنه پاتې شي او د هغې له مخې دې د هغوی پنځه زره زندانیان ور آزاد کړي، تر دې چې امریکایي چارواکو کابل ته په همدې تړاو سفرونه پیل کړل. د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد د هڅو په پایله کې ولسمشر محمد اشرف غني د لوړې تر مراسمو وروسته، د طالب زندانیانو آزادولو په اړه یو پېچلی فرمان صادر کړ. د یاد فرمان له مخې، د روانې میاشتې په ۱۴مه باید ۱۰۰ طالب زندانیان له پروان (بګرام) زندان څخه تر بایومټرک کېدو او تر لیکلي ژمنې ورکولو وروسته چې بیا ځلې به د جګړې ډګر ته نه ستنېږي، آزادېږي او په همدې ترتیب به هره ورځ ۱۰۰ طالب زندانیان عمر او روغتیایي وضعیت ته په کتو له نورو زندانونو څخه آزادېږي. د زندانیانو آزادېدو په بدله کې له دې پرته افغان حکومت له طالبانو څخه دا هم غوښتي چې د تاوتریخوالي کچه به راکموي او له افغان حکومت سره به مخامخ خبرې کوي. هغه څه چې د هوکړې تر لاسلیک وړاندې ورته طالب مشران ژمن نه ښکارېدل او نه ورته تیار دي.

**د زندانیانو موضوع او سوله**

ټاکل شوې وه چې بین الافغاني خبرې اترې د مارچ په لسمه تر سره شي، مګر د ۵۰۰۰ طالب زندانیانو نه خوشې کېدل د بین الافغاني خبرو اترو لړۍ نه پیل کېدو لامل شول، چې تر دې دمه یې څرک نه لیدل کېږي. خو د لوړې تر مراسمو وروسته کله چې ولسمشر محمد اشرف غني د طالب زندانیانو د مشروطې آزادۍ څرګندونه وکړه، افغان سوله بیا د رسنیو سر ټکی شوه؛ مګر د مارچ نهمې دوه ګوني د لوړې مراسمو چې د ډاکټر محمد اشرف غني او ډاکټر عبدالله عبدالله له خوا په جلا جلا توګه تر سره شول، د سولې په اړه کورنۍ اجماع او هیله تته کړه، هغه څه چې د بین الافغاني خبرو اترو لپاره اړین ګڼل کېږي. امریکا چې له یوې خوا له طالب مشرانو سره یې هوکړه لاسلیک کړه، بلخوا د تېرو ټاکنو له پایلو څخه یې نه یوازې هرکلی وکړ، بلکې امریکایي لوړ پوړو چارواکو د ولسمشر محمد اشرف غني د لوړې په مراسمو کې ګډون هم وکړ او په دې سره یې د سولې او بندیانو خوشې کولو موضوع لاپسې پېچلې کړه، ځکه د حکومت سیاسي مخالفین تور لګوي چې د بین الافغاني خبرو اترو لپاره د حکومت پلاوي ټاکلو کې ورسره مشوره نه ده شوې او همدا ځای دی چې ډېری سیاسي مشران د سولې په اړه د حکومت په کړنو شک کوي. په داسې حال کې چې افغان ولس له بې وزلۍ او جګړې څخه په لویه کچه تنګې ته راغلی، د افغان سیاسي مشرانو دغه خپل منځي بې باوري د هغوی هغه هیلې چې تل پاتې سولې ته یې لرلې، بیا ځلې کمزورې کړې.

امریکا چې له یوې خوا یې له طالب مشرانو سره په شوې هوکړه کې د طالب زندانیانو ورخوشې کولو ژمنه کړې، بلخوا د افغان حکومت له لوري د طالب زندانیانو خوشې کولو په اړه پېچلي او نامعلوم پړاوونه چې وخت ته په کتو پکې بدلونونه هم منځ ته راځي، کولی شي افغانستان ته د سولې راتګ د لا ځنډ او خنډ ښکار کړي. ټاکل شوې وه چې د مارچ په ۱۴مه ځینې طالب زندانیان له بند څخه آزاد کړل شي، مګر لیدل کېږي چې هغه هم د نامعلومو دلایلو له امله ځنډېدلي ښکاري او دا هغه څه دي چې طالبان به تاوتریخوالي زیاتولو ته وهڅوي او د تاوتریخوالي له زیاتوالي سره به هغه بهرني او داخلي اړخونه چې په روان ناورین کې یې ګټې نغښتې دي، کوښښ وکړي چې د امریکا او طالبانو تر منځ د بې باورۍ فضا جوړولو لپاره لمن ووهي. په داسې حال کې چې امریکایي چارواکو وار دمخه ګواښ کړی که طالبان خپلو ژمنو ته ژمن پاتې نه شي، نو لاسلیک شوې هوکړه به لغوه اعلان کړي او روان حالت د یو همداسې څرک ثابتولو ښکارندویي کولی شي.

**د سولې پر وړاندې شته خنډونه څنګه له منځه تللی شي؟**

که امریکا او طالبان په رښتینې توګه غواړي چې افغانان د یوې رښتینې سولې شاهدان واوسي، دواړې خواوې باید نه یوازې لاسلیک شوې هوکړې ته ژمنې پاتې شي، بلکې دواړې خواوې د هوکړې هغه موارد چې شکونه یې زېږولي او په اړه یې ډېر وضحات ته اړتیا لیدل کېږي، هم د افغان ولس هغو سیاسي مشرانو ته په ډاګه کړي چې په اړه یې وېرې او شکونه لري. د بېلګې په توګه، د طالب زندانیانو خوشې کولو موضوع چې افغان حکومت یې په اړه وېره څرګندوي چې ګواکې بیا د جګړې ډګر ته ورستانه نه شي. د ټولو امریکایي ځواکونو وتلو موضوع، ځکه داسې څرګندونې هم کېږي چې امریکایي ځواکونه په افغانستان کې د خپلو فوځي اډو د پراخوالي چارې تر سره کوي چې د امریکایي ځواکونو وتلو موضوع سره په ښکاره ټکر کې لیدل کېږي.

بلخوا د شوې هوکړې له مخې چې کومې نېټې په ډاګه شوې چې په ټاکل شوې موده کې به بهرني ځواکونه له افغانستان څخه وځي، دا له حقیقت څخه لرې خبره ده. دا ځکه چې په هوکړه کې هغه لومړنۍ نېټې د بېلګې په توګه د مارچ په لسمه به بین الافغاني خبرې اترې پیل کېږي او د باور جوړولو لپاره د دواړو خواوو زندانیان آزادېږي، عملي نه شوې، هغه څه چې ښایي له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو وتلو پرېکړو په پرتله ډېرې ستونزمنې نه وي د ځنډ او خنډ ښکار شوې، نو د ځواکونو وتلو پړاوونه ښایي هم په خپل وخت کې تر سره نه شي او دا چارې کولی شي د سولې لړۍ لاپسې وغځوي او که چېرته ټول بهرني ځواکونه له افغانستان څخه ووځي، نو په افغانستان کې د تل پاتې سولې راتګ حتمي کولی شي.

اړینه ده چې طالبان او افغان حکومت د زندانیانو آزادولو پلاوو په اړه داسې څرګندونې ونه کړي، چې د باور فضاء خړه کړي، دواړې خواوې باید د باور فضاء رامنځ ته کولو لپاره د یو څه منلو او له یو څه څخه تېرېدلو یوه داسې پالیسي غوره کړي چې رښتینې او واقعي ګټه یې افغان ولس ته ورسیږي.

په ورته وخت کې افغان سیاسي مشران باید د سیاسي سیالیو او تورونو لګولو څخه لاس واخلي او د بین الافغاني خبرو اترو پلاوي ټاکلو کې چې د حکومت له لوري نهایي شوی هم دی، په اړه یې د ټولو سیاسي مشرانو ملاتړ خپل کړي، څو په پایله کې روانو ناخوالو ته د پای ټکی کېښودل شي او افغان ولس د یوې رښتینې سولې شاهد واوسي.

# پراخېدونکی ګواښ؛

## د کرونا پر وړاندې د حکومت اقدامات چټک او اغېزناک نه دي



د کرونا پراخېدونکي ګواښ په هېواد کې ګڼې اندېښنې پارولې دي. تېره او وړمه ورځ په کابل ښار کې په ناڅاپي توګه بیې لوړې شوې. وړمه ورځ په هرات کې څلور نورې مثبتې پېښې ثبت شوې، پاکستان تورخم لار وتړله چې ورسره جوخت ولس ته د کرونا د پراختیا او لومړنیو خوراکي توکو د کمښت له امله اندېښنې پیدا شوې. په هرات کې لا هم روغتیایي کارکوونکي له دې شکایت کوي چې اړینو وسایلو او امکاناتو ته لاسرسی نه لري او تر څنګ یې له دغه ولایت سره اړینه مالي مرسته هم نه ده شوې. بلخوا ولسمشر بیا پرون ۴۰۰ میلیونه افغانۍ له دغه ولایت سره ځانګړې مرسته اعلان کړه. اروپایي ټولنې بیا په دې منځ کې د اوربند او د کرونا پر ضد د درېدو غوښتنه کړې ده.

وړمه ورځ د هېواد د عامې روغتیا وزیر وویل چې هېواد له یوه ملي ګواښ سره مخ دی. خو پرون حکومت په بېړه په ځینو اقداماتو لاس پورې کړی دی چې وکړی شي د کرونا له امله په هېواد کې رامنځ ته شوی ګواښ تر خپلې وسې کنټرول کړي. ولسمشر تېره ورځ ډېر ویډیویي کنفرانسونه لرل او د پیل شوو تیاریو څارنه یې کوله. هغه د عامې روغتیا وزارت او دغه راز نورو چارواکو سره په دې اړه په ویډیو کنفرانس کې خبرې کولې او دوی ته یې تازه سپارښتنې کړې دي. نوموړي د کرونا ویروس د له منځه وړلو او د دغه وژونکي ویروس د مخنیوي لپاره د یوه جامع عملیاتي پلان غوښتنه کړې ده.

ولسمشر د عامې روغتیا وزارت له کارکوونکو او رهبرۍ سره د خبرو پر مهال ویلي چې هرات ته یې څلور سوه میلیونه افغانۍ تخصیص کړې دي او له دغو پیسو باید د کرونا پر ضد مبارزه کې ګټه واخیستل شي. نوموړي له عامې روغتیا وزارت غوښتي چې د دغه ویروس د له منځه وړلو او همدا راز د ګواښونو او خطرونو د کمولو لپاره باید یو جامع عملیاتي پلان جوړ شي. د ارګ له مطبوعاتي دفتره په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي: «د کرونا ویروس احتمالي خپرېدو د مخنیوي او مهارولو په خاطر دې ځانګړی عملیاتي پلان جوړ او د هرې احتمالي مرحلې لپاره باید ځانګړې تیارۍ شتون ولري.»

بلخوا د هېواد په بازارونو کې د لومړنیو خوراکي توکو بیې لوړې شوې دي. سره له دې چې د کورنیو چارو وزارت په دې برخه کې خپل اقدامات تر سره کړل، خو لا هم بیې تر مخکې ورځو یو څه لوړې دي. ولسمشر غني بیا وایي چې خلک دې په دې اړه اندېښنه نه کوي. د ده په خبره، هېواد په هېڅ صورت د خوراکي توکو له کمښت سره نه مخ کېږي او په خبره یې که اړتیا پېښه شي، حکومت به خپل زرګونه ټنه غنم خلکو ته عرضه کړي او نرخونه به کنټرول کړي.

د کرونا ویروس خپرېدو د هېواد پر سیاسي چاپېریال هم سیوری غوړولی دی. ارګ او عبدالله عبدالله وایي چې د کرونا پر وړاندې مبارزه ورته لومړیتوب لري. ولسمشرۍ ماڼۍ ویلي چې اوس د دې وخت دی چې د سیاسي ناندریو پر ځای د دې پدیدې پر وړاندې مبارزه وشي. سپېدار ماڼۍ هم وایي چې سیاسي معاملات پر خپل ځای دي، پرمختګونه شوي دي، خو لومړیتوب اوس د کرونا پر وړاندې مبارزه ده.

له دې سره هممهاله د افغانستان لپاره د اروپايي ټولنې ځانګړي استازي رونالد کوبیا وایي، هر افغان حق لري چې د کرونا ویروس له خطر په امان وي. نوموړي پر طالبانو غږ کړی چې په دې موده کې اوربند وکړي او په دې توګه په ګډه د دغه ویروس د پراختیا مخنیوی وکړي.

وړمه ورځ طالبانو هم ویلي وو چې دوی له نړیوالو موسسو او بنسټونو سره د کرونا ضد مبارزه کې همکار دي. د وسله والو طالبانو د قطر دفتر ویاند سهیل شاهین ویلي وو، نړیوال دې د دې پدیدې پر وړاندې مبارزه وکړي او طالبان هم له دوی سره همکارۍ ته تیار دي. نوموړي همدا راز د افغان حکومت په زندانونو کې د خپلو زندانیانو په اړه اندېښنه ښودلې وه او له نړیوالو مرسته کوونکو یې د دوی د څارنې او روغتیایي پاملرنې غوښتنه کړې وه.

## د کتـاب خبـري


# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

- لیکوال: رابرټ کیوساکي
- ژباړن: علي‌الله متوکل

**لومړۍ برخه**

**د راتلونکي واګې په لاس کې واخله!**

**لومړی څپرکی**




څو لسیزې وړاندې په افغانستان کې خلکو په نساجۍ، وړیو، غالۍ اوبدلو او نورو خصوصي فابریکو کې کار کاوه، دوی او کورنۍ یې په دې فکر وو چې تل به خوشاله کوچنی ژوند ولري؛ خو د جنګونو پیل د هر څه پای شو. خلکو په فابریکو او شرکتونو کې کار کاوه او دندې یې خوندي وې، د شرکت لخوا وعده ورکړل شوې وه چې د ژوند تر وروستیو به هلته کار کوي. دوی په همدې خوشاله وو. هرڅه یې د شرکت او د هغه د څښتن لپاره کول. د کارګر پرمختګ یوازې څښتن ته ګټه کوله. کله چې جنګونه پیل شول، د شرکتونو خاوندانو زیان ولید. شرکتونه یې چور، تالا او وسوځول شول. څه چې یې لرل یا ور پاتې وو، هغه یې پر اوږو بار کړل او نورو هېوادو ته کډه شول. هلته یې له خپل کاروباري فکر او پیسو څخه کار واخیست. نښه کاروبارونه یې شروع کړل. هغه خلک پاتې شول چې د شرکت او د شرکت د څښتن لپاره یې کار کاوه. هغوی هر څه له لاسه ورکړل. له مرګ، فقر او غربت سره مخ شول. ځینو د کډوالۍ خوا ونیوله او هلته بیا د هغو شرکتونو له خاوندانو سره په کار شول چې کاروبارونه یې شروع کړي وو. تر کلونو کلونو خواریو، ستړیاوو او بې خوبیو وروسته هم هغه ژوند کوي. ((لیکوال دلته په زغرده وایي، که د بل چا لپاره کار کول او د نورو تر شا پرمختګ خوښوې، نو دا کتاب ستا لپاره نه دی: ژباړن))

**بیا مه ساده کېږه!**

اوس چې دا کتاب لیکم، د بېکارۍ کچه په زیاتېدو ده. کله چې تاسو دا کتاب لولئ، معلومه نه ده چې هغه وخت به حالاتو څومره تغییر کړی وي؛ خو تاسو مه ساده کېږئ. کله چې کارونه ډېر شي، د ملکیتونو ارزښت لوړ شي او کریډیټ کارتونه اسانه شي - چې دا خامخا کېدونکې هم ده - نو پام کوئ چې ساده نشئ او د نورې نړۍ په څېر پر دروغجن خوندیتوب باور ونه کړئ.

د (۲۰۰۸م) په اوړي کې د تېلو یو ګیلن ۴ ډالرو ته پورته شو، د موټرو قیمتونه ټیټ شول او خلکو کوچني او کم مصرفه موټرونه واخیستل. خو وروسته څه وشول. کله چې په (۲۰۰۹م) کې د تېلو بیه تر دوو ډالرو هم کمه شوه، خلکو بېرته لوی او ښایسته موټرونه واخیستل.

څه وشول؟ ایا د تېلو قیمت به همداسې ټیټ پاتې شي؟ ایا ضروري ده چې د تېلو ارزانۍ په خاطر لوی او پرمصرفه موټرونه استعمال کړو؟ ایا دومره به کم‌عقل یو؟

له بده مرغه ځواب مثبت دی. موږ یو ځل سادګي نه ده کړې، بلکې څو ځله مو تکرار کړې ده. د ملخ غوندې نن د سبا لپاره هېڅ فکر نه کوو. ښایي په ماشومتوب کې مو د مېږي او ملخ کیسه اورېدلې وي.

مېږی د راتلونکي لپاره خوراک ټولوي، شپه او ورځ یې پر ځان یوه کړې وي، درانه بارونه وړي، د ژوند تر پایه سخت کار کوي او ځان ساتي. بل لور ته بې مسئولیته او بد خرڅه ملخ دی. دی دلته هلته غورځي او نڅاګانې کوي، پرته له دې چې د راتلونکي په اړه فکر وکړي. د دوی له ژونده باید یو څه زده کړو.

د خبرونو سرټکي دې ساده نه کړي. هغوی تل په احمقانه خبرو پسې ګرځي چې تا له خپل اصلي هدف څخه - چې د ژوند جوړول دي - را وګرځوي. خبرونه یوازې بې ځایه نارې دي. ښایي د خبرونو سرټکي تروریزم (ترهګري)، اقتصادي سقوط یا انتخاباتي کش مکش وي؛ خو دا ستا له ژوند جوړولو سره هېڅ اړیکه نه لري.

دې ته ګوره، ان د اقتصادي بحران په حالت کې په امریکا کې ځیني خلک شتمن شول. بل لور ته د شلمې پېړۍ په اتمه لسیزه کې - چې د ملکیتونو ارزښت پورته کېده - خلک شتمن کېدل؛ خو په میلیونونو خلک چې د خپل راتلونکي په کېسه کې نه وو، همغسې غریب پاتې شول. هغه کسان چې د ژوند په سختیو کې پاتې شول، هغه څه ته یې فکر نه و کړی چې زه یې اوس په دې کتاب کې تاسو ته لیکم. هغه خلک اوس هم یا دیوالیه دي، یا په ډېره سختۍ ژوند کوي.

**اقتصاد اصل نه دی، ته اصل یې!**

ایا د شرکتونو په نړۍ کې له فساده خپه یې؟ ایا بانکونو ته چې د اقتصادي بحران سبب ګرځي خپه یې؟ ایا دولت ته غوسه یې چې ولې د بحران مخه نه نیسي یا ولې ډېر ناسم او لږ سم کارونه کوي؟ ایا خپل ځان ته غوسه یې چې ولې دې د ځان واک زر په لاس کې نه دی اخیستی؟


ژوند سخت دی؛ خو اصلي پوښتنه دا ده چې باید څه وکړې؟ خواشیني او زګېروی ستا راتلونکی نشي خوندي کولای او د لویو بانکونو، خصوصي شرکتونو او دولت ملامتول هم ستونزه نشي حل کولای.

که شتمنېدل غواړې، نو خپله ځان شتمن کړه. یوازې هغه وخت خپل راتلونکی جوړولای شې چې د خپلې ګټې د سرچینې (Income Source) واک په لاس کې واخلې. ته خپل کاروبار (Business) ته اړتیا لرې.

**دوام لري...**

# شبکه يي دولت

اکسوس کتابپلورنځی




دا کتاب په افغانستان کې له ۲۰۰۱ ز کال وروسته د دولت جوړونې په برخه کې نړیوالو لاسوهنو ته ځانګړې شوی دی، چې د دولت په جوړښتي شبکه او واک باندې خبرې کوي. دغه کتاب د دولت د جوړښت او د واک تمرکز څېړي. دا څېړنه په دې موخه شوې ده چې په افغانستان کې سیاست شبکه يي دی او د قومیت، قبیلې او وژنې د عناصرو شتون د سیاست مهمه برخه جوړوي. موږ د افغانستان د واک د جوړښت د ښه پوهېدو لپاره باید د سیاسي شبکو د واک ډینامیکي اړیکې د دولت د ننه او بهر مطالعه او کړنې یې په نظر کې وساتو.

د دې تحقیق، تجزیې او ارزونې موخه د دولت تحلیل په افغانستان کې، له ۲۰۰۱ ز کال وروسته د سیاست د تاریخي مخینې، حکومت ولۍ او د نړیوالو لاسوهنو له اغېزو سره په نظر کې لرو. دا څېړنه ښیي چې په افغانستان کې سیاسي نظم له ۲۰۰۱ ز کال وروسته رامنځ ته شوی دی چې په هغه کې سیاسي ثبات، د رعیت له اربابانو سره د اړیکو، غیر قانوني کړنو، فرصت غوښتنې او د عمومي منابعو د لوټلو له مخې د سیاسي شبکو په ګټه رامنځ ته شوی دی. همدارنګه دا شبکې د جمعي هویتونو له وسیلې څخه په ګټې اخیستنې سره غواړي، چې پر خپل فساد او سوء استفادې پرده وغوړوي.

د دې څېړنې اصلي پوښتنه دا ده:

څرنګه د دغو سیاسي شبکو کړنې او د واک اړیکې نظم یا ناوتریخوالی، سیاسي ثبات یا بې ثباتۍ رامنځ ته کوي؟

د دې څېړنې لیکوال وایي چې د دې څېړنې پایلې د افغانستان د راتلونکي لپاره ګټورې تمامېږي. دا څېړنه په پراخه توګه بنا شوې ده چې تر ۱۵۰ زیاتې مرکې او مصاحبې پکې شاملې دي. له کلیدي او کره مطلعینو سره له ۱٦ میاشتو په زیاته موده کې تر سره شوې ده.

«شبکه يي دولت» د ډاکتر تیمور شاران اثر دی، چې پښتو ژباړه یې سمیع الله مجاهد کړې ده او همدا پښتو بڼه یې په ۱۹۳ مخونو کې راټوله شوې ده.

مینه وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار په نورو لویو کتابپلورنځیو کې هم په مناسب قېمت تر لاسه کړي.



## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | حقیقت و آفرینش نظریه یی تکامل | محمد فتح الله ګولن/صادق آینه پور | ۱۵۰ ؋ |
| ۲ | جهاد روح و حقیقت آن در اسلام | محمد فتح الله ګولن/صادق آینه پور | ۱۵۰ ؋ |
| ۳ | مبانی مدیریت بحران | مهدی ابراهیمی نژاد رفسنجانی | ۱۷۰ ؋ |
| ٤ | زندګی پیامبر ما | یوسف قره ګل/احمد حسینی مروی | ۱۰۰ ؋ |
| ٥ | نورجاویدان جلد اول و دوم | محمد فتح الله ګولن | ٦۰۰ ؋ |
| ٦ | کسیر جاودانګی کوزه شکسته | محمد فتح الله ګولن | ۱۸۰ ؋ |
| ۷ | هیګل روح رستاخیزی در اندیشه و عمل | محمد فتح الله ګولن/سهراب عمر | ۲۰۰ ؋ |
| ۸ | درسایه ی ایمان جلد اول و دوم | محمد فتح الله ګولن | ۳۰۰ ؋ |
| ۹ | جنبش ګولن | هلن رز ایباف/فیروزه درشتی | ۲۰۰ ؋ |
| ۱۰ | تقدیر از دیدګاه قران و سنت | محمد فتح الله ګولن | ۱۲۰ ؋ |
| ۱۱ | منشور جلد اول و دوم | محمد فتح الله ګولن/سهراب | ۳۲۰؋ |
| ۱۲ | در محور ارشاد | محمد فتح الله ګولن | ۱۳۰ ؋ |
| ۱۳ | اقتصاد پیژندنه | محمد داود نیازی | ۳۵۰ ؋ |
| ۱٤ | د نړیوالو معاهداتو حقوق | ډاکتر موسی زاده/فضل ولي شیرانی | ۲۵۰ ؋ |
| ۱٥ | د افغانستان د اوبو حقوق | برکت الله اریوبي | ۱۰۰ ؋ |
| ۱٦ | متحده ایالات او د نړۍ ستر قدرتونه | بوزن بیری/روح الله زهیر | ۳۰۰ ؋ |
| ۱۷ | ملي امنیت او نړیوال نظام | ډاکتر جلیل روشندل/احمد شاه ویاړ او عزت بدلون | ۲۷۰ ؋ |
| ۱۸ | ستراتیژیک‌مدیریت | فریډ آر ډیویډ/میراحمد یاد | ۲۷۰ ؋ |
| ۱۹ | کاروبار | محمد داود نیازی | ۲۲۰ ؋ |
| ۲۰ | د کار ستراتیژي | برایان ټریسي/لعل الدین عاطف | ۱۵۰ ؋ |
| ۲۱ | د مغزو کنټرول | فرشاد نجفی پور/لعل الدین عاطف | ۱۵۰ ؋ |
| ۲۲ | عامه تمویل | امان الله، محمد دواد نیازی | ۲۳۰ ؋ |
| ۲۳ | بریالی فکر | جان مکسویل/اسماعیل آشنا | ۲۵۰ ؋ |
| ۲٤ | د کاروبار اخلاق | انډریو ګیلیر/میراحمد یاد | ۲۳۰ ؋ |
| ۲٥ | اصول مدیریت | علی رضائیان | ۲۵۰؋ |
| ۲٦ | مبانی سازمان و مدیریت | علی رضائیان | ۳۵۰ ؋ |
| ۲۷ | اقتصاد شهری | نعمت الله اکبری | ۳۲۰ ؋ |
| ۲۸ | سیاست و حکومت خاورمیانه | حبیب الله ابوالحسن شیرازی، اسلان قربانی شیخ نشین، رضا سیمبر | ۲۰۰ ؋ |
| ۲۹ | مبانی مدیریت رفتار سازمانی | علی رضائیان | ۳۵۰ ؋ |
| ۳۰ | شبکه يي دولت | تیمور شاران/سمیع الله مجاهد | ۲۵۰ ؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړیکه: 9696-98-0798 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۹۰ |
| € | ۸۳,۷۰ |
| Rp. | ٤۸۳ |
| ₹ | ۱۰۰۰ |
| ¥ | ۱۰,٤۰ |
| £ | ۹۲,۲۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بيړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
کرونا
166
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

# امریکایان ولې په دغه هېواد کې د کرونا له وقایوي کارونو شاکي دي؟

سرچینه: د چین نړیواله راډیو پښتو څانګه

د ختیځې امریکا پر ځایي وخت د مارچ په ۱٦مه د دغه هېواد د اسهامو بازار ډېر ټیټ شو او داو جانس (Dow Jones) شاخص يې هم ۱۳ سلنه ټیټ شوی دی. دا درېیم ځل دی چې دغه بازار د تېرو دوو اونیو په اوږدو کې ډېر رالوېږي.
د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ په سپینه ماڼۍ کې د خبري ناستې پر مهال ومنله چې د دغه هېواد اقتصاد د کمزورۍ پر لور روان دی.
د چین نړیوال نشراتي ګروپ اړوند (چین او نړۍ) څېړنیز مرکز د نږدې دوو لکو هغو رپوټونو په اړه څېړنه وکړه چې د جنورۍ له ۲۰ مې څخه د مارچ تر ۱۳ مې د امریکا د لویو رسنیو له خوا خپاره شوي دي.
د دې څېړنې نتیجه ښیي چې دریو موضوعاتو ته رسنۍ تر ډېره متوجه وې. لومړی- په دغه هېواد کې د ناروغانو شمېر او د دغه شمېر د حساب لارې چارې. دویم- په استوګه‌نیزو سیمو کې د کووید- ۱۹ ویروس د چټک خپراوي وېره. درېیم- له ویروس سره د مقابلې کمزورتیا. پر دې سربېره، پر خواله رسنیو هغه شکایتونه ډېر لیدل کېږي چې د امریکا مشرتابه له کووید- ۱۹ ویروس سره د مبارزې په برخه کې جدي نه ښکاري او پر وخت يې اړوند تدابیر نه دي نیولي.
د حیرانتیا وړ دا ده چې د خلکو له شکایتونو سره سره بیا هم ډونالډ ټرمپ پر خپل ټویټر لیکلي: «امریکا به له هغو صنایعو څخه ټینګ ملاتړ وکړي چې د (چیني ویروس) له امله ډېر اغېزمن شوي دي.»
له دې وړاندې د امریکا د ناروغیو کنټرول مرکز مشر ریدفیېلډ منلې وه چې په تېر کال کې په امریکا کې څه باندې ۲۰ زره کسان د انفلونزا له امله مړه شوي او د ځینو د مړینې رښتینی لامل کوییډ- ۱۹ ویروس و.
یو چیني الاصله امریکایي ډاکټر د ټرمپ پر ټویټ په لیکل شوي کمنټ کې ویلي: «ټرمپ کوییډ- ۱۹ ته چیني ویروس وایي، زه له دې څخه ډېر ډارېږم. د امریکا ولسمشر له تعصب ډکه توره لار انتخاب کړې، زما په اند دا کار به زموږ هېواد له سختو ستونزو سره مخ کړي.»
د چین نړیوال نشراتي ګروپ د امریکا د ناروغیو کنټرول مرکز پر ټویټرپاڼې هغه درې لیکنې هم څېړلې، چې په همدغه ټویټرپاڼه کې تر ټولو ډېرې د پاملرنې وړ او له ډېرو غندنو سره مخ شوې دي. له دغو دریو لیکنو څخه په یوه کې لیکل شوي چې د ناول کرونا د مخنیوي لپاره ماسک اچول ضروري نه دي. پر دې لیکنې ډېرو خلکو کمنټونه لیکلي او د ډېرو بدو کلیمو په کارولو سره يې یاد مرکز په کلکه غندلی دی. دا چې په امریکا کې د خلکو لپاره د ویروس ازموینه پر وخت نه ده او له وخت وروسته غونډې یا ناستې يې منع دي، نو ښایي په دغه هېواد کې د ویروس د خپرېدو حالت له خپرې شوې شمېرې څخه ډېر سخت وي.
ویروس د هېوادونو تر منځ پولې نه پېژني، د عامې روغتیا امنیت د انسانانو پر وړاندې ګډه ننګونه ده، بېلابېل هېوادونه دې جنجال پرېږدي او اوږه پر اوږه دې له ویروس سره مبارزه وکړي، څو بریا تر لاسه کړي.

# راپورونه: ایران د کرونا ویروس له وېرې ۸۵ زره زندانیان خوشې کړي



د راپورونو له مخې، ایران د کرونا ویروس له وېرې د لنډې مودې لپاره د ځینو سیاسي بندیانو په ګډون، ۸۵ زره زندانیان خوشې کړي دي.
دا په داسې حال کې ده چې په ایران کې د کرونا ویروس له کبله د مړو شمېر تر زرو اوښتی او اوسمهال شاوخوا ۱۵ زره کسان په دغه هېواد کې پر دې ویروس اخته شوي دي.
رویټرز خبري اژانس د ایران د قضایي قوې د ویاند غلام حسین اسماعیلي له خولې ویلي: «د خوشې شویو کسانو شاوخوا ۵۰ سلنه يې له امنیتي مسئلو سره تړلي بندیان دي.»
د نوموړي په خبره، په زندانونو کې يې د کرونا ویروس د خپرېدو د مخنیوي لپاره احتیاطي تدابیر نیولي دي.
نوموړي دا نه دي ویلي چې له زندانونو په موقته توګه خوشې شوي کسان به کله بېرته زندانونو ته ستنېږي.
دا په داسې حال کې ده چې د مارچ په ۱۰مه په ایران کې د بشري حقونو په اړه د ملګرو ملتونو ځانګړي راپور ورکوونکي جاوېد رحمان وویل، له ایراني چارواکو يې غوښتي چې سیاسي زندانیان په موقت ډول د دغه هېواد د ګڼې ګوڼې او ناروغیو څخه له ډکو زندانونو خوشې کړي، څو په زندانیانو کې د دې ویروس د خپرېدو مخه ونیسي.
په ورته وخت کې ډېریو ایرانیانو د دغه هېواد د روغتیایي چارواکو هغه سپارښتنه چې په کور کې دې پاتې شي، له پامه غورځولې، خو چارواکو د کرونا ویروس پر ضد د تدابیرو په لړ کې په قُم او تهران کې د شیعه مسلمانانو سپېڅلي ځایونه او زیارتونه تړلي، څو د ګڼې ګوڼې مخه ونیسي.
ایراني چارواکو امریکا متحده ایالتونه ملامت کړي چې پر دغه هېواد يې لګولي بندیزونو د کرونا پر ضد د تهران مبارزه زیانمنه کړې ده.
تهران دغه راز پر نورو هېوادونو غږ کړی چې د دغو بندیزونو د لرې کېدو په اړه د ایران د غوښتنې ملاتړ وکړي.
رویټرز خبري اژانس ویلي، په واشنګټن کې ورته ځینو سرچینو ویلي چې د چین په څېر هېوادونو د غوښتنې سربېره چې پر ایران د امریکا د بندیزونو د کمولو په اړه کړې، داسې نه ښکاري چې واشنګټن دې پر تهران بندیزونه اسانه کړي.

# ملګري ملتونه: د کرونا ویروس د مخنیوي په موخه له پاکستانه د افغان کډوالو د ستنېدو لړۍ ځنډېدلې



د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ په خپره کړې اعلامیه کې ویلي چې د کرونا ویروس د خپرېدو د مخنیوي په خاطر يې افغانستان ته د کډوالو د بېرته ستنېدو بهیر ځنډولی دی.
په اعلامیه کې راغلي چې دې اداري د پاکستان په اذاخیل، نوښهره، خیبر پښتونخوا، بلالي او په بلوچستان کې خپلې اداري تړلې او همدا راز يې په افغانستان کې هم هغه څانګه تړلې چې له پاکستانه ورتلونکو افغان کډوالو ته يې نقدې پیسې ورکولې.
په پاکستان کې د کډوالو د عالي کمېشنرۍ مرستیال لاین هال ویلي: «موږ د اوس لپاره د هغو افغان کډوالو بېرته ستنېدو بهیر ځنډولی چې په خپله خوښه افغانستان ته ځي. دا کار مو د دې لپاره کړی چې د کرونا ویروس په ختمولو او مخنیوي کې د نړیوالو هلو ځلو او په دغه برخه کې د پاکستان د هر اړخیزو پلانونو سره مرسته وکړو.»
په ورته وخت کې د کرونا ویروس له کبله افغانستان ته په خپله خوښه د ورستنېدونکو کډوالو شمېر هم کم شوی دی. په تېرو شاوخوا دوو اونیو کې یوازې نهه کورنۍ په خپله خوښه له پاکستانه افغانستان ته بېرته ستنې شوې دي.
په پاکستان کې د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمېشنرۍ چارواکو په خبره، دا مهال څه باندې ۱.۴ میلیونه ثبت شوي افغان کډوال په پاکستان کې اوسېږي. د راپورونو له مخې، له ۲۰۰۲ ز کال راهیسې شاوخوا ۴.۴ میلیون افغان کډوال په خپله خوښه خپل هېواد ته ستانه شوي دي.
دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت چارواکو ویلي، په ایران کې د کرونا ویروس خپرېدو له امله له دغه هېواد څخه یوازې ورمه ورځ ۱۷۰۰۰ افغان کډوال راستانه شوي دي.
د دغه وزارت ویاند رضا باهر امریکا غږ ته ویلي چې د یادو کډوالو له ډلې ۱۳۵۰۰ يې د هرات اسلام قلعه بندر او پاتې ۳۵۰۰ نور د نیمروز بندر له لارې هېواد ته راغلي دي.

# د بشري حقونو کمېسیون: په افغانستان کې پر جنګي جنایتونو تورن بهرني ځواکونه باید محاکمه شي



د بشري حقونو خپلواک کمېسیون او د افغانستان د بشري حقونو سازمان د اې بي سي نیوز پر وروستي راپور چې استرالیایي ځواکونو په افغانستان کې ملکي او بې دفاع کسان وژلي، اندېښنه ښودلې ده.
دا په داسې حال کې ده چې اې بي سي نیوز ورمه ورځ هغه ویډیو خپره کړه چې پکې ښکاري استرالیایي ځواکونه په افغانستان کې بې دفاع ملکیان وژني. په دې ویډیو کې یوه استرالیایي پوځي اعتراف کړی چې ملګرو به يې په لوی لاس ملکي، بې وسلې او بې دفاع خلک په نښه کول او له کوم جرم او څېړنې پرته يې وژل.
د افغانستان د بشري حقونو کمېسیون په افغانستان کې د استرالیایي او نورو بهرنیو ځواکونو له لورې د تر سره شویو جنایتونو د څېړنې غوښتنه کوي او وایي چې دوی په دې تړاو د استرالیا حکومت ته هم شکایت کړی دی.
د بشري حقونو خپلواک کمېسیون غړې نعیم نظري په دې تړاو ویلي: «د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د استرالیا له اړوندو بنسټونو سره دا مسئله شریکه کړې ده، د استرالیا حکومت باید ټول هغه کسان محاکمه کړي چې په افغانستان کې پر جنګي جنایتونو تورن دي.»
په ورته وخت کې د افغانستان د بشري حقونو سازمان وایي، نه یوازې استرالیایي ځواکونو، بلکې په افغانستان کې د جنګ ټولې ښکېلې خواوې په جنګي جنایتونو کې ښکېلې دي او نیوکه کوي چې افغان حکومت نه دی توانېدلی چې د داسې قضیو مخه ونیسي او یا يې هم وڅېړي.
د ملي شورا غړي هم بهرني ځواکونه د بشري حقونو په نقض تورنوي او په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو حضور د خلکو په زیان بولي.
د بشري حقونو خپلواک کمېسیون او د افغانستان د بشري حقونو سازمان داسې مهال په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو د جنګي جنایتونو د څېړنو غوښتنه کوي، چې تر دې وړاندې هم د استرالیایي ځواکونو دې دا ډول جنایتونو په تړاو شکایتونه شوي، خو د استرالیا حکومت د ډېرو راپورونو له خپرېدو سره سره د خپلو مجرمو پوځیانو پر وړاندې هېڅ راز اقدام نه دی کړی.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
WAYGAL PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د کب ۲۸مه | د ۲۰۲۰ د مارچ ۱۸مه | ۵۳۲مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۸ | ۲٤ | ۲٦ | ۲٦ | ۲٦ | ۲۳ |
| ٥ | ۱۱ | ۱۱ | ۱۲ | ۱۳ | ۱۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۳۷ | لمر ختل ۰٦:۰۱ | ماسپښین ۱۲:۰۲ | مازیګر ۰۳:۲۸ | ماښام ۰٦:۰۳ | ماخوستن ۰۷:۲۸


## نړۍ



راپورونه: ایران د کرونا ویروس له وېرې ۸۵ زره زندانیان خوشې کړي

۵

## راپورونه: د امریکا خزانې وزارت د سورېې پر ۱۷ لوړپوړو چارواکو بندیزونه لګولي



د فارس خبري اژانس د راپور له مخې، د امریکا خزانې وزارت د سورېې پر دفاع وزیر علي عبدالله ایوب بندیزونه لګولي دي.

دا په داسې حال کې چې ایوب له ۲۰۱۸ ز کال راپدېخوا د سورېې د دفاع وزیر په توګه کار کوي چې تر دې وړاندې هم امریکا هغه له بشري حقونو پر سرغړونې تورن کړی دی.

نوموړي ته د امریکا حکومت تېر کال خبرداری ورکړی و چې که له بشر ضد کړنو لاس وانه خلي، د بندیزونو په لېست کې به یې شامل کړي. د راپورونو له مخې، د امریکا خزانې وزارت د سورېې پر ۱٦ نورو چارواکو هم بندیزونه لګولي دي.

په ورته وخت کې د سورېې حکومت د امریکا دغه اقدام غندلی او خبرداری یې ورکړی چې د امریکا دغه ډول هڅې به په سیمه کې له ترهګرۍ سره نوره هم مرسته وکړي.

د سورېې د بهرنیو چارو وزارت ویاند ایمن سوسان ویلي، د امریکا دغه ډول اقدامات د سورېې له جګړه ځپلو خلکو سره په ښکاره توګه دښمني په ډاګه کوي. هغه دغه راز ویلي چې د امریکا له لوري د دغه هېواد پر چارواکو ټول لګېدلي تورونه بې بنسټه دي.

## الصحاف: عراق د امریکا د وروستیو بریدونو له کبله امنیت شورا ته شکایت کړی

عراقي چارواکو ویلي، هېواد یې د امریکا د وروستیو بریدونو له کبله د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته شکایت کړی دی.

د عراق د بهرنیو چارو وزارت ویاند احمد الصحاف ویلي، پر عراقي ځواکونو د امریکا د وروستیو بریدونو له کبله یې په رسمي توګه د دوو لیکونو له لارې امنیت شورا ته شکایت کړی دی.

نوموړي له المیادین خصوصي تلوېزیون سره د مرکې پر مهال ویلي، چې د ملګرو ملتونو له امنیت شورا یې غوښتي چې په عراق کې د امریکایي ځواکونو د ټولو خپلسریو مخه ونیسي او پرې نږدي چې د دواړو لورو تر منځ کړکېچ پراخ شي.

نوموړي دغه راز زیاته کړې چې امریکا باید د عراق د خلکو او پارلمان وروستۍ پرېکړې ته درناوی وکړي او له دغه هېواد خپل ټول پوځیان وباسي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې په بغداد کې د امریکا پر پوځي اډو تر برید وروسته، امریکایي جېټ الوتکو د عراق د پوځ پر اړوندو څو ملېشه وو هوایي بریدونه وکړل چې درنه مرګ ژوبله یې اړولې ده. هغه خبرداری ورکړی، که امریکا دغه ډول خپلسري عملیات او بریدونه ونه دروي، د عراقیانو له توند غبرګون سره به مخ شي.

## مشرانو جرګه: حکومت هرچه عاجل فهرست مذاکره کننده گان را مشخص سازد



شماری از اعضای مشرانو جرگه، ضمن تاکید بر حل اختلافات انتخاباتی از حکومت خواستند تا هرچه عاجل، فهرست مذاکره کننده گان را مشخص سازد تا روند گفتگوهای بین الافغانی آغاز گردد.

این درحالیست که توافقنامه ای میان امریکا و طالبان به‌تاریخ ۱۰ حوت، در قطر به امضاء رسید که به اساس آن مذاکرات بین الافغانی، به‌تاریخ ۲۰ ماه حوت آغازمی شد؛ اما بنابر بروز اختلافات بر رهایی پنج هزار زندانی طالبان و عدم تکمیل فهرست مذاکره کننده های حکومت، این گفتگوها تاکنون آغاز نشده است.

در نشست عمومی دیروز مشرانو جرگه، بر تکمیل فهرست هرچه عاجل هیئت گفتگوکنندۀ حکومت تاکید شد.


گلالی اکبری نماینده مردم بدخشان در مشرانو جرگه، فرصت به دست آمدۀ صلح را فرصت طلایی خواند و گفت که نباید اختلافات سیاسی موجود، سبب ضربه زدن به روند گفتگوهای صلح در کشور شود.

به دنبال اعلان نتایج نهایی انتخابات از سوی کمیسیون مستقل انتخابات که محمد اشرف غنی به عنوان رئیس جمهور خوانده شد، عبدالله عبدالله نامزد پیشتاز دیگر، نتایج اعلام شده را نپذیرفت و حکومت همه شمول را اعلام کرد. هرچند قبل از مراسم تحلیف، شماری از سیاسیون و نماینده گان کشورهای خارجی، برای حل اختلافات میان غنی و عبدالله تلاش کردند؛ اما نتیجه ای در پی نداشت.

خانم اکبری از جامعه جهانی خواست که برای رفع اختلافات سیاسی، دست به کار شود تا اختلافات موجود، روند صلح را متضرر نسازد و مردم ناامید نشوند.


## ژوند

## د هغه څه په اړه چې نه یې لرئ، اندېښنه مه کوئ



د ورځې په اوږدو کې ډېر کله موږ د هغه څه په اړه فکر کوو چې کېدای شي را منځ ته نه شي. د بېلګې په توګه، د راتلونکې په اړه، له وخته مخکې د پیسو خلاصېدل او داسې نور. ډېر کارونه د وخت په تېرېدو سره خپله حل کېږي، نو لازمه نه ده چې له وخت وړاندې خپل وخت او انرژي پرې مصرف کړو. ښه ده چې پر ځای یې دغه انرژي په یوه داسې څه ولګوو، چې وکولای شو په یو ډول خپلې موخې ته نږدې شو. کېدای شي په ژوند کې له ډول ډول ستونزو سره مخ شی، په دې وخت کې مو چې لومړی فکر ذهن ته درځي، څه دی؟ تر ټولو ښه کار چې په دې وخت کې یې باید وکړی، هغه دا دی چې په مخ کې پراته کارونه او ستونزې مو ډلبندي کړئ. ځکه د هرې ستونزې حل ډېر کله خپله په ستونزه کې نغښتی وي.

## ورزش مو د بدن دفاعي ځواک لوړوي



منظم ورزش د ژوند له سالمو ارکانو بلل کېږي. ورزش د انسان زړه قوي کوي، د وینې لوړ فشار ټیټوي، د وزن له کنټرول سره مرسته کوي او د دې ټولو تر څنګ مو له بېلابېلو ناروغیو ژغوري. خو ایا ورزش کولای شي د انسان د بدن دفاعي ځواک هم لوړ کړي؟ بلې! ورزش هم لکه یو سالم غذایي رژیم کولای شي د ډول ډول ناروغیو پر وړاندې ستاسو د بدن دفاعي ځواک پیاوړی کړي. دا چې ورزش په بدن کې د وینې له ښه جریان سره مرسته کوي، نو په دې سره د بدن د دفاعي ځواک د موادو او سلولونو لپاره لار هوارېږي څو د بدن ټولو برخو ته ځان ورسوي او خپله دنده په سمه توګه تر سره کړي. ځینې څېړونکي اوس په دې لګیا دي چې ثابته کړي چې ایا خپله ورزش کولای شي ورزشکار پر ځینو ناروغیو اخته کړي، دوی د دې کار لپاره له ورزش مخکې او وروسته د ورزشکارانو په وینه باندې څېړنې کوي او تر څنګ یې د دوی د بدن دفاعي ځواک هم تر څېړنې لاندې نیسي.

ماسټر ډېبټ کارت

د عزیزي بانک ماسټر ډېبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
- د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو ګټه اخیستلی شئ.



www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank